# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم*

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
|---|---|


د پیشرو نشریه ۴۹ گڼه

۰۴ اپریل ۲۰۱۴

## ښکیلاکګران، ښکیلاکمینه په جرمونو کې ډوبوي

په هر هیواد کې چې استعمار واکمن شي او د چارو واګې یې د ښکیلاکګرو په لاس کې ولویږي، هغه هیواد نیمګرغي او ښه ورځ لیدلی نشي. ښکیلاکګر خپلې ښکیلاکمینې له انساني ارزښتونو تشوي او په جنایت، جرم او وژلو یې لړي. استعمار، د نورو جنایتونو تر څنګ خپله ښکیلاکمینه په جرمونو کې ډوبوي. استعمار بیوزلي، نادارۍ، تش لاسي او وزګارتیا رامنځته کوي او د بیوزلو او شتمنو تر منځ طبقاتي واټن زیاتوي.
د جرمونو زیاتیدل د ښکیلاک له کرغیړنو پایلو څخه دي. د جرمونو قربانیان بیوزله انسانان دي. شتمن داړه ماران چې د ښکیلاک چوپړیان دي، د ولسونو له بیوزلۍ څخه ناوړه ګټه اخلي او د دې ناچاره بیوزلو په وسیله بیلابیل جرمونه تر سره کوي. که له یوې خوا جرمونه د بیوزلو انسانانو په وسیله تر سره کیږي، له بلې خوا د جرمونو اصلي قربانیان هم بیوزله او زیارکښه ولسونه دي.
زموږ هیواد چې د امریکا له ښکیلاکمینو څخه شمیرل کیږي، د جرمونو په هیواد بدل شوی دی. دلته د نورو کړاونو او رنځونو تر څنګ، جنايي جرمونو د خلکو ژوند تریخ کړی دی، خو د ملندو خبره دا ده چې په دې وروستیو کې د ملګرو ملتونو د مخدره موادو سره د مبارزې د اداري رییس، جین لوک لوماهیو د بریتانیا ګاردین ورځپاڼې سره په مرکه کې ویلي دي «که موږ محتاط ونه اوسو نو افغانستان به په یو پاشلي او په جرایمو کې ډوب هیواد باندې بدل شي.»
جین لوک چې د پانګوالو د نړیوالي اداري په خدمت کې دی، باید په دې پوه شي چې افغانستان وار دمخه په جرمونو کې ډوب شوی دی. مسخره به وي که تمه ولرو چې په یوې ښکیلاکمینې کې دې جرمونه یا نه وي او یا یې کچه ټیټه وي. جرم، له ښکیلاک سره مل ناورین دی او چیرې چې ښکیلاکګران جنایت کوي، هلته د جرمونو کچه هم سیوا کیږي. افغانستان، د دې حقیقت، یوه ترخه بیلګه ده. که د امریکایي او ناټویي ستمګرو له جنایتونو او جرمونو تیر شو، د اوسني دولت شمیرې څرګندوي چې افغانستان د جرمونو په هیواد بدل شوی او بیوزلي هره ورځ د جرمونو قربانیان دي. سیدګل آغا هاشمی د کابل امنیه قوماندانۍ له جنايي جرمونو سره د مبارزې رئیس د جدي په پنځمه په یوه مطبوعاتي کنفرانس کې وویل چې په کابل ښار کې په یوه میاشت کې د وژنې او مسلحانه سرقتونو ۱۰۰ پیښې ثبت شوي او په تړاو یې ۲۰۰ کسان نیول شوي دي.
همدا ډول د کورنیو چارو وزارت له جنايي جرمونو سره د مبارزې رییس ویلي دي چې د تیرکال په پرتله د روان کال په نهو میاشتو کې غیر قانوني مسافرتونه درې برابره او نور جنايي جرمونه څه باندې ۳۱ سلنه ډیر شوي دي. هغه

زیاتوي چې په دې موده کې ۱۴۸۵ قتلونه، ۱۳۶ شوکماریاني، ۲۰۸۵ غلاوې، ۱۱۶ اختطافونه، ۱۲۱ جیب وهنه، اته اختلاسونه، ۱۷۹ پیښي د توکو قاچاق، ۲۸۲ پیښې د مخدره موادو قاچاق او ۵۵۴۰ متفرقه جنایي جرمونه په ټولیزه توګه په کابل، هرات، بغلان، ننګرهار او نیمروز کې تر سره شوي دي. د دې شمیرو پر بنسټ د روان کال په نهو میاشتو کې ۱۳۲۵۰ جرمي پیښې په ټول هیواد کې ثبت شوي دي چې په ترڅ یې ۱۸۷۸۹ سړي او ۶۶۷ ښځې نیول شوي دي. حال دا چې د ۱۳۹۱ کال په لومړیو نهو میاشتو کې ۱۰۰۶۹ جرمي پیښې تر سره شوې وې چې د روان کال په مقایسه ۳۱۸۱ پیښې کمې وې.

له پورته شمیرو څخه دې پایلې ته رسیږو چې د جرمونو کچه د هر کال په تیریدو زیاته شوې ده. هماغه شان چې د ښکیلاک د جنایتونو کچه د هر کال په تیریدو زیاتیږي، ورسره سم د جنایي جرمونو کچه هم لوړیږي. تر هغه چې افغانستان سیاسي او اقتصادي خپلواکۍ ته ونه رسیږي او د امریکا ښکیلاکمینه وي، جنایت به دوام ولري. جنایي جرمونه یوازې هغه وخت له منځه ځي چې هیواد خپلواکۍ ته ورسیږي او ورسره سم د زبیښاک او لوټمارۍ مخه ونیول شي. ځکه هغه وخت چې انسان آزادي ولري، د بل انسان غلام نه وي او مفتخوره او بیرحمه شتمن لړکي ونشي کړای ثروتونه لوټ کړي، انساني ارزښتونه غړیږي او انسان د بل انسان درناوی کوي او د جرم او جنایت کلیمې له قاموس څخه ورکیږي.